خپلواکی استقلال
www.esteqlaal.net

روانشاد پوهاند عبدالحی حبیبی شنبه ۱٦ سپتمبر ۲۰۲۳

# د احمدشاه بابا دیوان

لسمه برخه




رشتیا:

رشتیا د اخلاقو یو مهم توک دي، په پښتو کي هم رشتیا لمړنی مقام لري، د پښتنو شاعران تل د پښتنوالی دغه توک ښه ستائي، خوشحال خان وایی:

چه دروغ تر خوله وباسي کله خوله ده
چه رشتیا تر خوله وباسي خوله هغه ده

احمد شاه بابا هم د اخلاقو او پښتنوالی دغه لوی توک په داسي ډول ستایي:

په رښتني بازار تل قلبې کوته ځي
سخ د هغو چه پدا بازار مخ سپین کا

رشتیا او سموالی د ټولو چارو د سموالي او بشپړوالي لار ده:

"احمد شاهه" چه څوک سم شو

هغه چار مونده تمام

د بې وزلو لاس نیول:

رحم او شفقت، مهربانی او عطوفت د انسان د فطرت ښه او لوړ مظاهر دي، انسان د بل انسان په خوږ خوږېږي، او په وير ئې ويرجن كيږي، سعدی انسان د يوه بدن اعضاء ګڼي، نو ځکه وايي:

چو عضوی بدرد آورد روزگار

دیگر عـضوها را نمانـد قـرار

لکه سعدی چه پخپل شاعرانه منطق دغه زړه سوی او رحم د انسانيت ټوک بللی دي، حقيقتاً هم دغه خلق، په ژوندون كي ډير اهميت لري، تقريباً د اجتماعی تعاون او تساند روح دی! مسعود سليمان غزنوی (۵۱۵ ه وفات) څنګه ښه ويلي دي:

روزیکه راحتی نرسد از من

گر هیچ آدمی را بد خواهم

مر خلق راز عمر نه پندارم

از مـردی و مـروت بـیزارم

اخلاقيونو او شاعرانو د دغي ښيګړي تبليغ او تلقين په ډول ډول کړی دي، مګر په پښتنواله كي دغه خوی دومره اهميت لري، چه بې له ښندني او مرحمته، پښتون نسي پښتون كيدای، احمد شاه بابا هم د بې وزلو كومک ډير ښه بولي، بلکه د لوړتوب يو لوی جز ئې هم ګڼي، لکه چه وايي:

چه خدای لوی کړې "احمد شاهه"

تل د خـوارو دستګيـري کړه

نصيحت اروېدل

د ښيګړي د پاره د نصيحت اروېدنه لازمي ده، ځکه نو په دنيا كي د تبليغ درجه ډيره لوړه ده ولی چه سموالی بې له وعظ اروېدو ممکن ندی، احمد شاه بابا دغه د اجتماعی اصلاح مهم اساس، او د پوهانو خوي داسي ښيئي:

هر دانا د بل نادان خبره پند کا

پـر نادان به د دانا خبر وي ستوخه

**تصوف**

د تصوف پر اصل او حقیقت چه علماؤ بحثونه کړی دي هغه اوږده دي، موږ دمخه د خوشحال خان د کلیات په مقدمه کي، د دوی د ابحاثو خلاصه لیکلي ده ۲۶ دلته ئې لیکنه تکرار ده.

---

۲۶. وګوری د خوشحال خان د کلیات مقدمه ص ۵۱، ۵۲، ۵۳ د قندهار طبع.

د احمد شاه بابا په کلام کي د تصوف رنګ غالب دي، او د ده د شعر لوی برخه هم تصوف ګڼل کیږي!

په مشرقی شاعری کي، مخصوصاً بیا د مغولو تر اړودوړ وروسته د تصوف روح غالب شوی دي، او ځني شعراء که څه هم مسلکاً او عملاً د تصوف خاوندان نه وه، هم د تصوف په اصطلاحاتو کي نبښتي، او له دغي دینا څخه ګډ شوی دي، مګر ځني ځني پاخه متوصوفین هم پکښي وه! د احمد شاه بابا د ژوندون سوانح چه موږ ګورو، د ده په عمل او کارونو کي خو د تصوف د انزوا، او ترک دنیا، منفی خوا نه وینو، نو له دغه جهته موږ دی تر دغه چه یو متصوف سړی ئې وبولو، ښه او حقیقت دغه دي چه متشرع ئې وګڼو، ځکه چه د ده د شریعت پروری قصې او حکایات تر اوسه په ملت کي پاته دي! مګر هیڅوک نسي ویلاي، چه دی نو لکه متصوفین، یو منزوی، او په ګوټ کي ناست او خلوت پسند سړی وو، بلکه د ده عمر تر خلوت په جلوت کي ډیر تیر سوی، او د تنازع للحیات پر میدان یو فاتح او بریالی عسکری قاید وو!

دلته زه ناچار یم، چه د احمد شاه بابا د تصوف د تحقیق په خوا کي خبره لږ څه سره وشنم، که د علماء او محقیقینو و پلټنو ته رجوع وکړو، نو به دا ښکاره شي چه د اسلام په خیر القرون او لمړی صدی کي، تصوف په دغه اوسنی نوم او مفهوم نه وه، لمړي سړی چه د صوفی په نوم بلل شوی دي، ابو هاشم صوفی دي، چه په ۱۵۰هـ کال وفات شوی دي. ۲۷

---

۲۷. کشف الظنون ج ۱ ص ۲۹۰، د جامی نفحات الانس ص ۳۲.

ځنی علماء و دې ته تللی دي، چه د نبوت په عصر کي دغه مسلک د احسان په نوم یاد شوی دي، لکه په صحیح بخاری باب الایمان کي چه د ایمان سره احسان راغلي دي، د حدیث په اصطلاح احسان دغه تصوف دي. ۲۸

۲۸. د حضرت شاه ولی الله صاحب دهلوی حجة الله البالغه.

په حقيقت كي تصوف دوه ډوله لری، چه يو "منفی تصوف" دي يعنی دنيا پريښول، او د علائقو شلول، بل "مثبت تصوف" چه له سلوک او زيار او د نفس له تربيته، او ميني او پوهنی او عبادت او د خلقو خدمت او جهاد څخه جوړ شوی دي.

په لمړی ډول كي د هند د فلسفې اثر ډير دي، اما پر دوهم ډول د شريعت او اسلام مقدس رنګ غالب دي، چه هغه لمړی ډول ته علماؤ فلسفی تصوف او دوهم ډول ته اسلامی او شرعی تصوف ويلی دي.

ځكه چه په تصوف ډير د فلسفې مسايل ګډ شوي دي، نو له دغه جهته دا هم ويل شوي دي، چه دغه كلمه له يونانی كلمې (سوف) څخه معربه شوې ده، يعني حكمت سوفيه يعني حكماء ۲۹ مګر محققين وايي چه دغه د فلسفې غلبه پر .۲۹ لمړی ډول تصوف وه، علامه حاجی خليفه په دغه باب كي

۲۹.د علامه ابو ريحان بيرونی متوفی ٤٤٠ھ كتاب الهند د ليډن طبع.

ليكلي دي: " و اعلم ان الاشراقيين من الحكماء الالهيين كالصو فين فی المشرب و الا صطلاح خصوصاً المتأخرين منهم..." ۳۰

۳۰. كشف الظنون، ج ۱ ص ۲۹۰.

په دې ډول نوی مستشرقين او پوهان لكه فان كريمر ډوزی، د هند فلسفه، او نكلسن د نو فلاطونيت فلسفه، په تصوف ګډه بولي. ۳۱

۳۱. د علامه اقبال فلسفه عجم ص ۹۵، د حيدر آباد طبع.

نو كه د حضرت شاه ولی الله صاحب محدث (رح) پر قول سم موږ دا ومنو چه په عهد نبوی (ص) كي تصوف د احسان په نوم موجود وه، ځكه چه په هغه عهد كي هيڅ د فلسفې او د هندی او يونانی

افکارو اثر نه وو، او نه اصحاب کرام (رض) او خلفاء عظام په خلوت کي کښېنسته، بلکه د دوی لوی کار د اسلام تبلیغ او جهاد وو، او له رهبانیته منع شوي وه. ۳۲

۳۲. لارهبانیة فی الاسلام (الحدیث).

له دغي مقدمې څخه دغه نتیجه را وزی، چه د اسلام لمړنی تصوف د احسان په نوم فقط د خالق عبادت، او د مخلوق خدمت، او هدایت او جهاد وو، مګر وروسته ځني منفي خیالات د هند له خوا، او ځني افکار د یونان له فلسفې څخه په را ګډ سوه، چه د تصوفو رنګ ئي ور الیش کي، دغه تصوف نو "فلسفی تصوف" بلل کیږی، د دغه خبری تصدیق موږ د حضرت خواجه عطار (رح) له ویناوو څخه کوو چه لیکي: "تا بعد ازان طریقت (تصوف) به فلسفه کشید، چنانکه معلوم هست." ۳۳

۳۳. تذکرة الاولیاء د خواجه عطار ص ۲۰۷ دوهم توک.

اوس به نو له دغو تفصیلاته څخه تاسي ته ښکاره شوې وي، چه د تصوف منفي خوا چه د هند او یونان د فلسفې افکار په ګډ دي، له اصلی اسلامی تصوف څخه بیله ده، ځکه چه اسلامی تصوف، عین د شریعت پابندی او د اخلاق نبوی (ص) او د سنتو تعقیب دي، چه هلته رهبانیت نه سته، او زیار او جهاد فی سبیل الله، او د اسلام تبلیغ او د خلقو هدایت ئي اساس دي! نو په دغه معنی موږ د متصوف او متشرع فرق نسو کولاي، او دغه دوه صفته سره لازم او ملزوم دي!

په دې نژدې درو پیړیو کي (درې سوه کاله) حضرت شیخ احمد فاروق کابلی ۳٤ مجدد الف ثانی (رح) د تصوف لوی مصلح او مجدد دي، ځکه چه د ۳٤ حضرت شیخ عطار (رح) په قول ډېر نوی

۳٤. تولد ۹۷۱ھ وفات ۱۰۳٤ھ مدفن سرهند.

فلسفی او هندی افکار په تصوفو ګډ شوي وه، حضرت مجدد (رح) او د ده ملګرو او شاګردانو دغه پردي افکار چه نوی نوی راغلي وه وایستل، او هغه د صدر اول پر اساس یې بنا کړه، ځکه نو دئ مجدد بلل کیږي، او د ده له مکتوباتو او نورو کتابونو څخه دغه تحقیق ښه ښکاره دي. د احمد شاه بابا تصوف هم د حضرت مجدد له کتابو نه اقتباس شوي، او دی یو متشرع سړی وو، چه له علماو سره ئي تل مجلسونه او ګډون درلود، او پخپله ئي هم له علومو څخه برخه درلوده!

احمد شاه بابا و حضرت شاه فقیر الله صاحب جلال آبادی ثم الشکار پوری ته پوره ارادت درلود، میا صاحب د خپل وخت یو مشهور متشرع عالم، او د دین مشر وو، چه په شکارپور کي میشته وو، د احمد شاه بابا او شاه صاحب رابطه او مکاتبات او مفاوضات تل جاری وه، له مکتوباتو څخه ئي دغه تینگه رابطه ښکاره کیږي چه په لاهور کي چاپ شوي دي!

میان فقیر الله صاحب پخپل وخت کي لوی مرشد او مرجع د مسلماناو وو، په هندوستان او افغانستان کي ئې د فضل او علم او تقوا ږغ تللی وو، هر ځاي ئې ارادتمندان درلوده، احمد شاه بابا هم د دغه عالم په فیض اخیستونکو مخلصینو کي وو، لکه چه میان صاحب د احمد شاه بابا تر وفات وروسته په یوه مکتوب کي و سلیمان شاه د ده جانشین ته داسی لیکي:

"نظر به رابطۀ انسانیه، علی الخصوص حسب رابطه قویه که فیما بین جناب شاه غفران پناه و این درویش صورت یاب گردیده بود..." ۳۵

۳۵. د میان فقیر الله صاحب مکتوبات ص ۲٦۹ د لاهور طبع.

په دې ډول د احمد شاه بابا عالمانه روابط د دغه مشهور او جید عالم سره تینگ وه، دغه زموږ د وطن نامتو مرشد او عالم په څلور وسیلې په طریقت کي و حضرت مجدد (رح) ته رسیږي، چه د ده تصوف هم له دغه منبعه ماخوذ دی، نو ځکه د تحقیق او تجدید جنبه لری، او احمد شاه بابا هم د ده یو محقق او متشرع ارادتمند گڼل کیږي، چه اسلامی مثبت تصوف ئې له دغه لویه عالمه کسب کړي، او د اسلامی شریعت یو زیار کښونکی او مجاهد پیر وو!

مثلاً شاه صاحب په یوه عربی مکتوب کي، چه احمد شاه بابا ته ئې را استولی دي، د جهاد تشویق کوی، او د اسلام د حقیقی اوامرو ښوونه او فتوا ورکوي. ۳٦

۳٦. د میان فقیر الله صاحب مکتوبات ص ۲۷۱ د لاهور طبع.

اوس به نو تاسی ته ښکاره شوې وي، چه زموږ د احمد شاه بابا عرفانی افکار پر کوم محور گرزی؟ او له کمه ځایه ئې استفاده کړې ده؟ او د تحقیق په کومه درجه کي وو؟

اوس چه موږ د احمد شاه بابا پر عارفانه افکارو لږ څه رڼا واچوله، او د دغه حقیقت مو څه نه څه څرگند کي، د دې دپاره چه زموږ ښاغلی ویونکي د بیان له اوږوالي څخه زهیر نسي، نو به لنډ لنډ

د ده ځني عرفانی افکار لاندي وليکو، هغه څوک چه شايق وي، پخپله به دغسي ډېر خواږه بحثونه د ده په کلام کي ومومي، ځکه نو موږ له تفصيل څخه صرف نظر کوو.

**د امانت دروند بار**

دا هغه دروند وری دي، چه په "انا عرضنا الامانة على السموا‌ة و الارض و الجبال فابين ان يحملنهاو اشفقن منها فحملها الانسان" ۳۷ کي ئې قرآن عظيم .۳۷سوره احزاب ۲۲-۹.

ذکر کړی دي، د انسانيت عام مسئوليت او د خلافت الهی د مقام اهميت خورا دروند او ډېر دي حافظ وايي:

اسمان بار امانت نتوانست کشيد

قرعهٔ فال بنام من ديوانه زدند

احمد شاه بابا د انسان دغه دروند د مسئوليت بار، په داسي ډول ښيي:

څه ضعيف تن يې "احمده"

حيران ستا و درانه بار ته

بل ځای د دغه درانه وری په اخيستولو پوری سخت حيران دي:

څه دروند بار د امانت دي

زه به څه پرې "احمد شاه" کړم

(دا په زړه کي ولری، چه د اسلام ځنو مفسرينو د امانت تفسير په سلطنت هم کړی دي، نو که په دوهم بيت کي احمد شاه بابا، د دغه لوی اجتماعي مسئوليت ذکر کړی وي، ليری نه ده.)

**د انسان اصل**

**نور بيا**

salamwatanam@gmail.com